درویش وردگ

۱۹ اپریل ۲۰۱۵

## دیورند کرښه که نالیکل شو« نکاح خط»؟؟

په افغان سیاسی کړیو کی له پخوا ددیورند دکرښی معضله دیوی لاینحل معما په توګه پاته شوی. دهندخخه دپاکستان دجلاکیدو(۱۹۴۷) بیا ترنن پوری، هرکله که په افغانانو تیری شوی، اویا له بلی کومی ستونزی سره مخ شوی، نو سیاستوالو سمدلاسه ددیورند قضیه منځ ته رااچولی اوپه نارو سورو یی لاس پوری کړی چی: ګواکی دپاکستان شرارت ددیورند دکرښی دنه رسمی کولو په علت شوی. اوډیره دتعجب خبره خوداده چی ددیورند کرښی خبره همیشه غیرپښتنو سیاستوالو اوپه خاصه توګه فاشیستی کړیولکه دنظارشورا ، حزب وحدت اونورو ډلګیومطرح کړی.

په کابلیانو کی یو متل دی چی: «درخانهٔ عروس خبری نیست، درخانهٔ داماد دنگ و دهل» . بلی دقیقاً خبره همداسی ده؟ ډیورند ترون چی دکرښی ایخوا(کوزی پښتونخوا) دخلکو دبرخلیک په هکله هغه ترون دی چی دامیر عبدالرحمن خان اوانګریزی استاذی سر.ډیورند لخوا لاس لیک شوی. داترون د۱۰۰ کالو لپاره داعتباروړ دی، او بیا به د«پښتونستان ؟» خلک دیوه ریفراندوم(عامه پوښتنی) په ترڅ کی پریکړه کوی چی دوی له (برتانوی هند) سره اویا هم له افغانستان سره یوکیږی؟

دیورند دکرښی دترون دمعیاد له پوره کیدو څو کلونه واوښتل، نه ریفراندوم وشو اونه هم دپښتونخوا خلکو کومه ناره (داپښتونستان زمونږ) پورته کړه. په واقیعت کی دپښتونخوا دخلکو استدلال ددیورند په هکله ډیر منطقی او واقیعتونو ته نژدی دی، دوی وایی تاسو له کابل سره څه وکړل چی له پیښور سره به یی وکړی؟؟

په ۱۳۶۰ کال کی دزده کړی په وخت کی په اروپاکی دکوټی دپښتنو دیوه جنرال زوی زما هم صنفی و، اومونږدپولی تخنیک دکانفرانسونو په تالار کی دافغانستان یوه نقشه (یوازنی نقشه په هغه هیواد کی) وځړوله چی په خیتزی پوله که یی «پښتونستان» لیکلی و، نومړی چی پښتون، زمونږ هم صنفی او هم اطاقه و، په ډیره کلکه زمونږ په مخ کی ودرید اودنقشی دلیری کولو غوښتنه کی وکړه، او ادعا یی وکړه چی دپښتونستان په نامه کومه سیمه دپاکستان په خاوره کی نشته؟؟ اودلیل یی هم پرځای و اوچاراواکوهم دده په غوښتنه نقشه لیری کړه.

دپاکستان له جوړښت بیا ترنن پوری ، نه دافغانستان اونه هم دپاکستان کوم چاراواکی ددیورند په هکله درسمی دولتی تریبیون څخه، یوه خبره نده کړی، اونه یی کومی نړیوالی مرجع ته په دی هکله کوم رسمی احتجاج اویا غوښتنلیک

وړاندی کړی. ولی هرکله که سیاستوال له دندی ګوښه شی نو بیا وایی: ما خو ددیورند کرښه ونه منله نوځکه ناکام شوم.!!

دیورند زمونږ دنالیکل شویو« نکاح خط» شکل لری؟؟ تول ژوند کوو، تولید مثل کوو، کوروالـه کوو، ولی یو نکاح خط نلرو؟؟؟ اوس که دنکاح خط نه شتون زمونږ دودونو اونسل په هکله شکونه رامنځ ته کوی؟؟ نو ډیورند به هم زمونږ دستونزوسر چینه وی؟؟.

غیرپښتانه فاشستان خولانورهم مخکی ځی اولکه پدرام چی وایی:«اګرخط دیورند ازبین برود؟ چند پشتون پدرنالت دیګه هم زیاد می شود؟ باز همرایشان چه میکنید؟؟؟ » هوکی هیوادوالو: وایی دتیزن بهانه روټ وی؟ دافغان ناکامو سیاستوالو روټ هم ډیورند کرزیدلی. اوهرکله چی درسواییو سره مخ شی نو بیا وایی: «پاکستان به خاطر دیورند مارا آرام نمی ماند! اګردیورند را به رسمیت بشناسیم خیر وخیرت است؟»

نن سبا چی په نړی کی ارضی ستونزی حل شوی، اود ځمکو دنیونو پرځای دبازارونو اومارکیټونو نیول مهم شوی، اوپاکستان هم زمونږ دسپیرو غرواو دښتوپه نیولو پسی ندی؟، بلکه پاکستان لوی اهداف لری اومونږافغانان دا ۳۶ کاله دپاکستان نیابتی جګړه پرمخ بیایو، که په لومړیو کی مو اهداف سره سم او، اوس خو دواړه دیوه آخوره خوراک کوی؟؟

دافغانانو ستونزه ډیورند نه بلکه نیواک او اشغال دی، چی پلورل شوی سیاستوال دنانځکو په څیر ګډوی. غریب او که عجیب وی ؟ که دوی په دی باوروی چی ددیورند لاسلیک کول زمونږ ستونزی حل کوی؟؟ نوزمونږدیوه ملګری دټوکی خبره:« چی راوړی ډیورندپه سروبی کی واچوی خودخدای په لحاظ مونږ قرار پریږدی؟؟».

په درنښت

***یادداشت:***

*گذشته از آن که به اساس مشاهدۀ نتایج عملی سیاست های پاکستان از زمان ایجاد آن کشور بدین سو به خصوص در این ۴ دهۀ اخیر، با صراحت می توان نوشت که مسألۀ دیورند برای پاکستان بهانه ای جهت مداخلات دشمنانه اش بوده و هرگاه آن خط فرضی الی کابل هم برسد، پاکستان از دریای آمو صحبت خواهد نمود، دراساس مسأله ای از سنخ دیورند، ارتباط کامل با پذیرش اصل «حق تعیین سرنوشت ملل» داشته، برای ما تا زمانی که مردمان آن طرف خط، درسنگر مبارزۀ آزادیخواهانه ایستاده اند، حمایت از آنها بخشی از وظایف تخطی ناپذیر ما را می سازد.*

*ادارۀ پورتال AA-AA*